# دمې اوه لسمه ۱۷



**<u>ده مې اوه لسمه ۱۷ دناروی ملی ورځ دي. ده ناروی کلیزه.</u>**

**<u>ولی موږ دمی  په اوه لسم ۱۷ کی د ناروې کلیزه لمانځو؟</u>**

ناروې د څلور سوه ۴۰۰ کاله د دنمارك هیواد یوه برخه وه، او دغه هیواد دنمارک پادشاه له خوا د دنمارک له قانون سره سم اداره کیدل. په ۱۸۱۴ میلادی کاله په اروپاه کې ديري مهمی   پیښی رامنځته شوی دي.او ناروی هم وکولای شو چه په ۱۷د می ۱۸۱۴ کې خپل اساسي قانون جوراو لاسلیک يي کړل ترڅو ناروی وکولای شي پخپلو چاروکی پخپله پریکړره وکړې.

یوسلو دولس ۱۱۲ مشهوره مخور او بانفوذه  ناروېژیای شخصیتونه په ایدسوول په ښارکې سره راغونډ شول او لومړني اساسي قانون يئ رامنځته تدوین کړل.په دغه غونډه کې ګډونوالو تاکنه وکړل چه څوک به د ناروې پادشاه  په توګه وټاکل شی نو ګډونوالو د دنمارک شهزاده چه کریستیان فریدریک نومیده د ناروې د پادشاه په توګه وټاکل.

له ۱۸۱۴ کال د می اوه لسمه ۱۷ او وروسته دغه ورځ د ناروی ملی ورځ شوه. دغه ورځ ته د بیرغ ورځ هم وایی او د دغه هیواد عمومی رخصتی له ورځو څخه دی.

په دغه ورځ کې د ښونځي تول زده کوونکی له مدارسو څخه رخصت وی او همدا رنګه  ديرو دولتي کارمندان له خپلو دندی څخه هم رخصت وی.








*Nasjonalt senter for flerkulturell opplæring*
*nafo.oslomet.no*




Bilde: tv:Knud Knudsen [CC BY 2.0 (https://creativecommons.org/licenses/by/2.0)], th: Wikipedia, cc commons

دغه رسم او رواج د سلو ۱۰۰کلونه را په دی خوا تر سره کيږي، ترڅو چه وښيي چه ناروی يو
مستقل هيواذ دی، په ۱۹۰۵ کال کي د ناروی مشران د دغي ورځې د لمانځلوپاره ماشومانوته ملي
جامې واغوستلې، دغه جامې او لباسونه له هغو جاموڅخه تقليد شوې وی چه ناروېژيانو په اتلسمه ۱۸
پيړي کې تړنه کار اخستل.

__ده مي اوولسمه لاريون ۱۷__



ده مي په اوه لسمه ۱۷ نيټه کی د ښونځي زده کوونکی لاريون په لاراچوی او په داسي حال کې چه د
ناروی ملي بيرغونه په لاسونه کې وي، ملي سرود وايی او په جشن پيل کوي. په ځينو سيمو کې ځينی
ډلې موزيک غږوي له ۱۴۰ يوسلو څلويشت کالو څخه ډيره موده کيږي چه ماشومان خپل ملي سرود
وايی او وايی چه «هو،مونږ په خپل وطن مين يوو.»

ددغه ملي سرود متن Bjørnstjerne Bjørnson په کال ۱۸۵۹ کې ليکلی ده اوروسته له څلورو کلو
څخه د هغه خوريي Rikard Nordraak دغه ملي سرود وغږوله، ترتيب اوتنضيم يی کړی.
اوروسته له مي اوه لسمې د لمانځلو په جشن کې د سندرو سربيره ويناوې چه په مدارسو، پارکونو، د
ښارونو په مرکزونو کې ترسره کيدې ورزياتې شوې. همدا رنګه دغه ورځ د ماشومانو د ورځې په
نامه ونومول شوه. ددې لپاره چې دغه ورځ په اصل کې د ماشومانو ورځ ده نو هغوي په دغه ورځ کی
ډير خوشحاله وي هرڅومره چه وغواړي خواړه او د څکلو شربتونه په خپله خوښه خوري او څکي

## **فارغان/روسان Russ**



د ښونځي زده کوونکي د کال په آخر کې خپل ځانونه د سور په شان جوړوي هغوي د ۱۳ دیارلس کلو ښوونځي ته د تګ وروسته احساس کوي چې د یو جشن جوړول ته اړتیا ده ، دغه روسانو سور کالی اغوندی او توش سره یو بل ته دوستانه سلامونه لیکی. همدا روسان د می میاشت کی دیر جشنونه لری دیرو خپله موترونه لری او یا هم بسونو کی ګرځي او دیر جیک موزیک غږوي دیرو خپله ښوونکي سره ټوکي کوي. اود می اوه لسمه سهار وخته د خوب نه هغوی وخوځوئ. په دیرو ځایونو کې روسان خپل لاریون کی ګدونوالوته په زره پوري طنزونه او رقصونه وربښي.

**سلطنتی کورنی.**

د ناروي اوسني پادشاه Kong Harald هارالد نومیږي.

هارالد د مي د میاشتي په اوه لسمه ۱۷ د سلطنتي کورنی سره د ماڼي د قصر په برنده ګی دریږي او د راغلو خلکو ولوولو ته د هرکلي په بنه خپل لاسونه خوځوي، او دغه ورځ د ناروې د پادشاه د ژوندکی د ګنه ګونو ډکو ورځې څخه دی. اوس د (۱۰۰) کلو څخه ډیر موده را په دی خوا د ناروي د پادشاه د مهمو ډندی څخه د هغو خلکو احساساتو ته ځواب ورکول دي چه د ماڼی (قصر) خوا ته روان دي.



<u>کولا شی چه دغه سوالونو ته ځواب ورکړی.</u>

د ناروې اساسي قانون کوم ځاي کې جور شول.

د ناروی ملی سرود متن څوک لیکلی دی.

د ناروې ملي ورځ تاریخ.

هغه کسان چه د ماڼې د قصر په برنده کی ولار وی او لاس خوځوي څوک دی.

د ناروې د ملی سرود نغمه د چا لخوا لیکل شوی دی.

ناروي کوم کال کي خپل اساسي قانون ترلاسه کړ.

هغه ځوانان چه له ښوونځي نه فارغ کیږی څه نومیږی.

د ناروې ملی سرود څه نومیږی.

د می اوه لسم ۱۷د کي معمولاَ زه څه خورم.

